۱۱۔ ایضًا، ص، ع
۱۲۔ ایضًا
۱۳۔ عبداللہ جان عابد، اجمل خټک شخصیت اور فن ص ۹۵-۹۶
۱۴۔ میر گل خان نصیر، شب گروک، بلوچي اکېډمي، کراچي، **۱۹۲۴**ء، ص، ۳۱-۳۳
۱۵. میر گل خان،نصیر،کارواں کی ساتھ،کوئټه،میر درد پبلی کېشن، ۲۰۱۱ءص ۶۵
۱۶۔میر گل خان،نصیر،گرند،مستونگ،قلاتپ پبلشرز، ۱۹۷۱، ص، ۱۱۱-۱۱۳
۱۷۔ گل خان نصیر، حون ءِ گوانک، ترجمه پرویزسلیم بلوچ، عوامي ادبي انجمن کراچي، **۱۹۸۸**،ص
۱۸۔ ایضًا ص
۱۹۔ ایضًا ص
۲۰۔ عبداللہ جان عابد، اجمل خټک شخصیت اور فن ص ،۸۳
۲۱۔ اجمل خټک، د غېرت چغه، پېښور، یونیورستي بک اېجنسي، فروري **۲۰۰۲**، ص،۱۰۵
۲۲۔ ایضًا ص
۲۳۔ میر گل خان،نصیر،کارواں کی ساتھ،میر درد پبلي کیشن، ۲۰۱۱ءص۳۰
۲۴۔ میرگل خان، نصیر، گلبانگ، (دومی چاپ) کرچی، بلوچ دود ءُ ربدگي ءَ بت لویي انجمن، **۱۹۹۹**، ص **۲**

# ټپه او قومیت

## TAPPA AND NATIONALISM

Abaseen Yusafzai

**Abstract:**

Tappa is the unique, basic and most popular genre of Pashto poetry. It has specific meter and syllables. Subjectively, it

possesses a large canvas. Every kind of subject can easily narrated in tappa. Every dimension of Pashtoon life can be seen in tappa. In this research paper nationalism in tappa is discussed. Pashtoons are naturally nationalists, that is why the poets has made its portrayal in tappa as well. Pashtoon historical heroes, historical characters are discussed in tappa in an artistic manner. Moreover, Pashtoon cultural values, traditions, customs etc are also a part of the same. I hope the readers will take interest in this dimension of Pashto tappa.

دا دَ انسان په خټه کښې اخښلې شوې خبره ده چې دی به دَ ځان سره دَ خپل کور سره دَ خپل چاپېرچل سره او بیا په تېره تېره دَ خپل وطن او خپلې خاورې سره بې شانه مینه لري. دَ دغې مینې دائره بیا رو رو فراخه کیږي او دَ پښتون بچي دننه خو دغه جذبه دَ نورې دنیا نه لږه زیاته شوخه او زیاته ژوره ده. پښتانۀ په شعوري او لاشعوري ډول دَ وطن دَ ننګ او ناموس دَ پاره دَ هیڅ قربانۍ نه غاړه نۀ غړوي. دَ پښتو اولسي شاعري عموماً او ټپه خصوصاً دَ دغو جذبو دَ غورځنګ نه ډکه پکه پاتې ده. اولسي شاعري هسې هم دَ بې ساختګۍ او سادګۍ له کبله ډېره اثرناکه او خوږه وي او چې پکښې کله دَ ټولو خلقو دَ جذباتي تړون وطن او خاورې خبره راځي نو اورېدونکي او لوستونکي ټول مست شي او دَ هغه پېغام سره متفق شي. دَ دغه خیال سره ژور تعلق او عملي تړون را وپاریږي.که چرې مونږه دَ اولسي شاعرۍ دَ یو صنف ټپې چې دَ پښتو په ټۀ علاقو کښې ورته لنډۍ یا مصرعه هم وئیلی شي.یو څو نمونې دَ مثال په توګه راواخلو وړاندې تر دې چې مونږه دَ ټپو لورې ته لاړ شو، دَ ټپې دَ عظمت او زور په حقله دَ سمندر خان سمندر دغه یوه حواله رانقل کووم:

"یا پښتنو مېړنو! دَ هر جنګیالي پښتون غوږ ته دا چغه ورسېده. او په جنګ کښې ئې دَ ملالۍ لورته وکتل. ملالۍ دَ زړۀ له جوشه دا لنډۍ ووې چې : یه کۀ ځار

که په مېوند کښې شهید نۀ شوې
خدائیګو لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه

دَ ملالۍ دَ لنډۍ یۀ یۀ توردی‌د هر غازي په زړۀ لکه دَ غشي ور ښخ شو. او دې چې دا ټپه ختمه کړه نو سمدستي ئې دَ الله نامه واخسته چې "الله اکبر" او لکه دَ اوږي زمري ئې دَ دښمن په لور ورمنډه کړه او په منډه کښې ئې دا بله لنډۍ شروع کړه.
یا قربان.....................ن

خال به دَ ورور په وینو کېږدم
چې په شین باغ کښې سُور ګلاب وشرموینه"١

دَ دغو جذبو چې دَ ټپې په سینه کښې ملالۍ انا خوندي کړې او دَ غازیانو لوري ته ئې زمزمه کړې، دَ بائیللي جنګ دَ ګټې سوب ګرځېدو. پرېوتې حوصلې راپاڅېدلې او پښتانۀ زلمي په دښمن لکه دَ باز ورغوټه شول. دغه زور دَ پښتنې ملالۍ په خُله دَ ټپو دَ ننه دَ قومیت دَ جذبو جوش ؤ.
دَ ټپې په حقله دَ ژورې څېړنې نه اول دَ اولسي شاعرۍ دَ ارزښت او خوږوالي په حقله دَ غني خان دا یو څو ارشادات لولو:

> "I have given you the meaning of his (Pukhtun) folk-songs but not their rhythm and flow, their most important elements. You can't understand a folk song by reading it, you must hear and see it. You can't understand velvet from a description of it. You must touch it with your fingers and rub it against your cheek in order to know the deep and

subtle shades of softness, that go to make there If you really want to hear and know a Pathan folk-song, go to the bank of one of his many rivers, preferable in the evening when the girls to fetch. Their water and youths hover around to get their daily dose of hope and longing, the only wine the pathan drinks"[۲]

ترجمه: "ما دَ پښتو اولسي سندرو مفهوم بیان کړدی نۀ چې دَ هغو دننه زیروبم او رواني کومه چې دَ دغو سندرو خاصه ده. تاسو د یوې اولسي سندرې په لوستلو دَ هغې په مفهوم نۀ شئ پوهېدلی. دَ دې دَ پاره دَ دغې اورېدل ضروري دي. تش دَ شکل په وسیله تاسو دَ بخمل نه نۀ شئ خبرېدلی. دَ دې دَ پاره ضروري ده چې تاسو بخمل په ګوتو وګورئ او په خپل مخ پورې ئې وسولوئ نو هاله به تاسو ته دَ دې دَ جوړ بنسټ دَ نرمۍ او پوستوالي اندازه وشي. دغسې که تاسو بې شکه دَ پښتون اولسي سندره اورېدل غواړئ او ځان ترې خبرول غواړئ نو تاسو دَ هغوي دَ سیمې په ګڼو دریابونو کښې دَ یو دریاب غاړې (ګودر) له په مازیګري کښې ورشئ. کله چې جونه اوبۀ راوړي او زلمي دَ خپلو ارزوګانو او اُمېدونو تر لاسه کولو دَ پاره په سېل راوتي وي. دا ځانګړي شراب دي چې پښتانۀ ئې څښي؛

نواز طائر صیب وائي:

"فولکلور چې پښتو کښې ورته شفاهي یا اولسي ادب وئیلی شي او مقصد ئې دَ یو اولس دَ روایاتو تجزیه کول دي. دَ هغوئ دَ ژوند دَ معاشرتي نظام او ذهنیت اندازه لګول دي. دا دَ اولسي روایاتو دَ هغې علمي او ادبي افکارو نه بیخي بدل دی کوم چې دَ لویو لویو عالمانو او مفکرینو یا شاعرانو په لیک کښې راوستی شي. دَ دې ادب دَ مطالعې په ذریعه دَ معاشرې معنوي او عملي اړخ څرګندیدی شي او روایات چې دَ معاشرې اډانه پرې ولاړه وي په دې کښې محفوظ وي. دَ دې په

ذریعه مونږ دَ بیلو بیلو نسلونو او اولسونو دَ فطرت، مزاج او نسلي امتیازاتو سره اشنا کېدی شو." [۳]

دغه رنګ چې مونږ پړاؤ په پړاؤ دَ تاریخ یوه یوه پاڼه اړوو نو بېلا بېل تاریخي واقعات او شخصیتونه مخې ته راځي چې دَ هغوئ دَ خپل هېواد او خپلو خلقو سره مینې اولس دَ هغو په ستائیلو مجبور کړی وي. لکه دغه دوه ټپو کښې دننه پرته جذبه او دَ ملک ګجو خان تاریخ لټول به مونږ ته دَ قومیت نورې ډېرې تمبې پرانیځي:

چې ګجو خان بابا ژوندی وو
دَ پښتنو په حجرو بل وو مشالونه
ادی ګجو خان دَ قره زویه
تا دَ مغل دَ غرور مات کړل سنګرونه

"وئیلی شي چې ګجو خان زوئی دَ ملک تره په کال ۱۴۹۰ء کښې زېږېدلی ؤ. دَ دهٔ دَ تورزنۍ او هوښیارۍ په وجه شېر شاه سوري دَ دهٔ ډېر زیات احترام کوو. په کال **۱۵۱۵**ء کښې دَ سوات په جنګ کښې دَ زخمي کېدلو نه پس دَ دهٔ دَ تورې او مړنتوب سره عشق پېدا شو. او بیا په کال **۱۵۲۰**ء کښې دَ مغل دَ باجګزارو قبیلو خلاف دَ کاټلنګ دَ جنګ په ګټلو چې کله پښتونخوا په وجود کښې راغله نو قام دَ ملک ګجو خان دَ تورې قائل شو او چې کله دَ ملک احمد نه پس ګجو بابا په تخت کښېناستو نو ټولو افغان قبیلو دَ زړهٔ نه خپل مشر تسلیم کړو.

په کال ۱۵۵۰ء کښې ئې دَ شېخ تپور په جنګ کښې دَ مغلو دَ مرستيالو قبيلو ژامې ماتې کړې او پېښور ئې قبضه کړو. په کال **۱۵۵۲**ء کښې ئې ګګر رياست هم دَ خپلې تورې لاندې کړو.

> په کال **۱۵۵۳**ء کښې مغل شهنشاه همايون دَ کابل له اړخه په پېښور حمله وکړه. ګجو خان بابا دَ دوه نيم لکهه لښکر سره مقابلې ته ووتو او په مغلو ئې غدئ ګډه کړه. په وار خطايئ کښې دَ مغلو سپه سالار سکندر ازبک په بالاحصار کښې پناه واخسته. همايون په خيبر کښې ناست ؤ. دَ ګجو خان دَ مقابلې په ځائ ى بېرته کابل ته وتښتېدۀ.

ګجو خان په خپل **۳۵** کلن اقتدار کښې ډېر ګټور ګامونه وچت کړل چې دَ پښتونخوا رياست ته ئې دوام او کوټلتيا وروبخښله.

> دَ اباسين هنډ نه تر هندو راج غټ سړک جوړول. ځائ ى په ځائ ى حفاظتي چوکئ او په سوونو سکولونه پرانستل. دَ کر کيلې دَ ودې او خسمانې په غرض باراني ډېمونه جوړول دَ تجارت او سوداګرئ دَ پرمختيا دَ پاره ځائ ى په ځائ ى تجارتي منډهئ او بازارونه جوړول. دَ خوارانو غريبانو دَ پالنې او روزنې په غرض بېت المال جوړول او دَ لښکر زياتول او تکړه کول دَ دۀ غټې غټې کارنامې دي. ملک ګجو خان "دَ پښتنو تاريخ" په نامه يو بشپړ تاريخي کتاب ليکلى دى چې اکثر تاريخ دانان هم دَ دغه کتاب حوالې ورکوي خو له بده مرغه دغه کتاب اوس زمونږ په لاسو کښې نشته. ملک ګجو خان دَ صوابئ سره نزدې په ګجوانو ډهېرئ کښې په ابدي خوب اودۀ دى."[۴]

دلته يوه بله تاريخي سانحه رااخلو او دَ دغو ټپو چې کومې دَ دَ ې په درناوي او ياد کښې وئيلې شوې دي. لنډه شان تجزيه کوو:

چې بخت منیر ئې ورله راوړو
مور ئې ړنده شوه په بازو خلۀ لګوینه
دې بخت منیر ته داسې وایئ
په تماچو برجونه چا اخستي دینه [۵]

دَ دې واقعې په حقله په درځنونو ټپې، لوبې او چاربېتې لیکلې شوې دي. دَ بخت منیر دَ پېژندګلو په حقله پروفېسر محمد نواز طائر لیکي:

" بخت منیر دَ پَښَت باجوړ دَ ګل بېلې نومې ځائی اوسېدونکی ؤ. په قام ترکلانی ؤ. دی لا ځلمی ؤ. چې دَ مړانې، ښۀ زلمیتوب او نورو ښېښتني صفاتو له مخه ئې په قام قبیله کښې اعتبار او برکت زیات شوی وو. داسې وائي چې دَ پشت دَ یو خان دا خوښه نۀ وه چې ګوندې بخت منېر دَ تربګنیٔ په قط کښې دَ هغۀ دَ سیالیٔ شي. مشري او زور په دغه زمانه کښې لاس دَ بري کار ؤ چې دَ سیالیٔ دَ خاوندانو به کله هم په خپل مقابل لاس بر کېدو، صرفه به ئې پرې نۀ کوله. بخت منېر دَ خپلو تربورانو دَ سترګو ازغی ؤ. هغه ئې هم په نیت پوهه ؤ. دَ پشت خان هم دغسې دَ موقعې په ساؤ کښې وو. اخر ئې یوه ورځ قرېشې نومې داشته په خپل سازش کښې شریکه کړه، هغې دَ بخت منېر سره لار واخسته او دَ پَښَت دَ خان په برج ئې یو ځل حملې ته ولمسوو. متل دی چې : غلۀ ته وائي چې غلا کوه او کوربه ته وائي بېدار شه
.

قرېشې هم دغه لوبه وکړه او هر کله چې بخت منېر یر یواځې دَ پَشَت دَ قلعه دَ برج نیوو په نیت دَ خپله کوره په څۀ بهانه ووت نو دشمنانو ورته لار دَ اګاهو نه نیولې وه او څۀ وخت چې دَ ګل بېلې چینې ته دَ خپل اس اوبۀ کولو له ورغلی نو هغوئ پرې راپاڅېدل. مقابله ئې وکړه. خو دَ یو او دَ ګڼو نۀ راځي. په هغه ځائی ئې ورله دَ ژوند وربشه ختمه کړه. "۶

بله یوه تاریخي پېښه دَ ټپو په ژبه واورئ چې دَ خاورې او وطن سره دَ مینې جذبه زیاتوي:

رامداد ئې سُور په وینو راوړو
مور ئې نارې کړې سره ډولۍ دَ رامداد ځینه

میانې دې داسې ځامن راوړي
لکه رامداد چې راښیزۍ راوړدی وونه

پاس په اسمان راشه رامداده
دَ کلي لارې راښیزو نیولې دینه

دَ رامداد خان دَ واقعې په حقله محمد نواز طائر لیکلي دي:

"دی (رامداد خان) لا زلمی وو. چې دَ نوم او برکت ټس ئې هر پله تلدی وو. تربورانو ئې دَ دۀ دا درناوی او عزت نۀ شو زغملی او دَ کوپر(دَ ملاکنډ په سیمه دَ یۀ کلي نوم) په یو جنګ کښې قتل کړی شو. مرګ حق دی. خو هغه څوک چې دَ ننګ او غېرت په مېدان کښې سر ورکړي نو هغه په مرګ هم دوامي ژوند ومومي.

رامداد خان دَ پښتونخوا دغه رنګ دَ شمار په خوش نصيبه ځلمو کښې يو نوموړی ځوان ؤ چې هم ئې نوې ځواني وه. او هم دَ پښتو او پښتونولۍ په تول پوره ؤ ځکه ئې تر ننې ورځې ياد تازه دی. او تر قيامته به هېر نۀ شي. تر څو چې پښتون قام او پښتو ژبه ژوندۍ ده او دَ دې په ملي سندرو دَ قام مينه ماتيږي تر هغې به دَ دې شاه زلمي دَ نوم سندرې په هر چا خوږې لګي "7

دَ وطن، خاورې او خلقو مينه يواځې دَ پښتو زلمو په برخه نه ده رسېدلې په دغه مسته جذبه کښې پښتنې پېغلې او زنانه هم پوره په پوره شاملې دي بلکې همېشه ئې دَ خپلو سړو (ورونړو، زامنو، پلارانو، خاوندانو او عزيزانو) جذبې ژوندۍ او تاندې ساتلې دي. همېشه ئې دَ دوئ سره اوږۀ په اوږۀ دَ قوميت جذبه پاللې ده. لکه دا لاندينۍ ټپې دثبوت په توګه وړاندې کوم:

که دَ وطن په ننګ شهيد شوې
په تار دَ زلفو به کفن درله ګنډمه

خدايه بې ننګه زوئی را مۀ کړې
که ئې ديدن پسې ړنده په سترګو شمه

دَ کوټې تير راباندې پروت وی
راباندې نه وی دَ نامرد سړي لاسونه

چې تُوره وباسې ګډ بړه
ما په همزولو پورې ډېر خندلې دينه

هلک به ولې تُوره نۀ کړي

تر نیمائي مورچې چې زۀ ورسره ځمه

مسافري په بې غمۍ کړه
تر له دې خپله په نامه دې ناسته یمه

که تور اوربل مې میراتیږي
په وطن جنګ دی جانان نۀ منع کوومه

پښتونولي ډېر سپېڅلی نظام دی. دَ ژوند دَ پاره ډېر بشپړ قانون او دودونه دستورونه لري. په دغه هر څۀ کښې دَ وطن مینه تر ټولو وړاندې راځي. سېف الرحمان سلیم وائي:

مینه دَ وطن که مې دَ ټولو مینو میره ده
مینه دَ انسان مې هم په زړۀ کښې عالمګیره ده[8]

پښتانۀ کله کله خپل کلي ته هم وطن وائي. دَ دوئ دَ قومیت دائره دَ ځان او دَ خپل کور کلي نه پېل کیږي. په عامه توګه دوئ خپل کلی نه پرېښودل غواړي خو دَ معاشي او اقتصادي مجبورو له وجهې دغه ګران کار ته هم غاړه ږدي. لکه دا ټپه:

څوک په رضا دَ ملکه نۀ ځي
یا ډېر غریب شي یا دَ یار له غمه ځینه

او په پردېس کښې ژوند ژواک تېروونکی هر پښتون چې کله دَ بل پښتون ورور عزیز سره لیدل کتل کوي نو اول ترېنه دَ کور کلي او دَ وطن دَ حال احوال پوښتنه کوي.
دَ مسافرۍ ټپې:

مسافرۍ ته دې ځان جوړ کړو

چاړۀ راواخله ما حلاله کړه مئینه

مسافر مۀ وژنې خاونده!
په ځنکدن کښې دَ وطن ارمان کوينه

خدايه دَ قطر بازار وران کړې
دَ شتۀ مړونو جونه کونډې ناستې دينه

پښتونولي دَ ژوند ژواک تېرولو يو کامياب ازمائيلی شوی انداز دی. دا په اصل کښې دَ ژوند کولو سره اخلاقي ضابطه او طريقه ده. که چرې په غور وکتلی شي نو دا خبره وړاندې راځي چې پښتانۀ په خپل دغه نظام بې کچه مئين دي او دَ دې ضابطې خلاف عمل کوونکي ته بې پښتو وئيلی شي.

پېغلې سلمیٰ شاهين دَ سيد تقويم الحق کاکاخېل حواله رانقل کړې ده چې :

"پښتو دَ يو خاص معاشرت او تهذيب نوم دی. دَ اخلاقو عاداتو دَ يوې مجموعې چې دَ هغې نه وتل دَ پښتو نه وتل دي . پښتون په کور دومره زور نۀ ورکوي څومره چې په اخلاقو:

دا پښتو نۀ ده چې مېلمه نهر وي او تۀ موړ.

دا پښتو نۀ ده چې همسايه دې څوک وهي او تۀ ورته ګورې

دا پښتو نۀ ده چې په ورور ،تربور او نۀ درې.

دا پښتو نۀ ده چې دَ خپلې خبرې نه وګرځې.

دا پښتو نۀ ده چې پردو تورسرو ته بک بک ګورې."٩

دَ پښتنو دَ فطرت په حقله پېغله سلمی شاهين ليکي:

"پښتون فطرتاً حريت پسند دی. دَ خپلو قوانينو او معاشرتي اقدارو او رواياتو قدردان دی. دَ خپلې خاورې سره بې کچه مينه لري او په خپل وطن ننګ کول دَ هغۀ خاصه ده. هر څو که دَ پښتو وضع شوي قوانين په انفرادي ډول هغۀ ته اذيت ورکوي. ولې بيا هم هغه دَ دغه وضع کړي شوي نا ليکلي آئين په رڼا کښې هغه څۀ ته غاړه نۀ ږدي چې دَ هغۀ پښتو او پښتونولۍ له نقصان ورکوي. او نۀ چرې دَ هغې حالاتو سره سمجهوته کوي کوم چې دَ دې برخلاف وي. پښتون وګړی دَ دې وضع کړي شوي قانون نه ځان ژغورل نۀ غواړي"١٠

چرته په ټپو کښې دَ تشبيهـ، استعارې او کنايې په ډول دَ بېلا بېلو پېشو اوکار کسب ذکر، چرته دَ مختلفو کسب ګرو او پېشه ورو خلقو دَ خپل کار کسب اوپېشو سره دَ مينې او په هغې دَ فخر په حقله يو څو ټپې:

اوربل مې بيا په وروزو خور کړو
لکه شپونکی چې بيزې قط په غرونو کړينه
قصابه تبر به دې مات شي
زما هډوکي بېلتانۀ وُچ کړي دينه
مُلا په خدائی به شي بانګ وايه
دَ زنې سر مې جانان کندې کندې کړو نه
کَړې له ډډ ورکړه زرګره
زۀ دَ اوۀ ورونړو خور يم قدرمنه
عالمه راشئ مخ مې تور کړئ

دَ باچا لور ووم په جولا مئينېدمه
خاونده بيا دې پسرلی کړو
غړانګه وره شپونکۍ بيا درال ته ځينه
(درال: درال په دير کښې دَ يؤ غرئيز کلي نامه ده)

چرته دَ اصل نسل، خېل، قام، قبيلې، رنګ او خانداني افتخار يا کمينۍ په حقله او دغسې نورې ګڼ شمېر خبرې په ټپه کښې ذکر شوې دي چې څو مثالونه ئې دلته وړاندې کول ضروري ګڼم:

مورې کوچيانو له مې ورکړه
چې تور سُونډی مې دَ سبا شمال وهينه
(سونډی: پېکی، پيچکی)
په وينو سرۀ لاسونه ګرځه
ملک له بډې ورکوه نشته مرګونه
(بډې: رشوت)
يا به زما نصيب کوټه وي
يا به خانان دَ کوره تش راغلي وينه
دَ رنګه توره ګوجرګۍ ده
بلې ډيوې سترګې ئې کلي ړنګوينه
غولی جارو کټونه سم کړئ
سپينې لمنې اپريدي راغلي دينه

پالنګ ئې پاس په لوړه کېږدئ
چې دَ تانې خانخېل ئې عُذر له راځينه

دَ دې نه علاوه دَ مختلفو غرونو، سيندونو او کلو علاقو سره دَ مينې په حقله هم بې شمېره ټپې شته چې دَ قوميت او مقاميت پوره پوره اظهار ترې کيږي، دا يو څو نمونې:

زما دې علم پکار نۀ دی
دَ اباسين چپې دې يوسه کتابونه
باران په ستر تيراه وريږي
دَ خېبر برخه بادامۍ ده رابه شينه
دَ کابل جان ونې سرکپ کړئ
چې ترې ښکاره شي دَ کوچۍ غړانګه ونه

دَ ننګ مېدان ګټل دَ هر پښتون ارمان وي او دَ هرې پښتنې خواهش وي چې هغه پخپله هم ننګيالۍ وي او دَ هغې کور نارينه هم دَ ننګ په مېدان کښې چرته پاتې را نۀ شي. دَ بې ننګۍ دَ ټسه خلق په وطن پرېښودو هم مجبوريږي. په پېغورونو کښې تر ټولو غټ پېغور دَ بې ننګۍ پېغور وي. په ټپو کښې دَ بې ننګۍ په حقله ذکر ګورو او دَ بې ننګۍ کولو دَ سزا او جزا ننداره هم کوو:

په تور دَ کن دې ځلی جوړ شه
دَ بې ننګۍ اواز دې را مۀ شه ميئنه

ټوټې ټوټې په تورو راشې
دَ بې ننګۍ اواز دې را مۀ شه ميئنه

ټوټې ټوټې په تورو راشې
چې پرهرونه دې ګنډم خُلۀ درکوومه
پرتوګ دې سوړې سوړې راوړو
چې هره سوړه دې ګنډم خندا راځینه
جینۍ دَ یار په تماشه شوه
دَ پلار پرتوګ ئې په سوباړې وشلوونه

عن تر دې چې دَ پښتو پښتونولۍ دَ دود دستور، تهذیب تمدن، ثقافت او تاریخ امانت ګرې چې څومره ټپې په خپلو نازکو او وړو وړو اوږو کړې ده، زۀ نۀ ګڼم چې دَ پښتو اولسي شاعرۍ بل صنف دغه کار په دومره بشپړ ډول کړی وي. ټپه دَ قومیت او مقامیت ډېره معتبره حواله ده. که چرې څوک دَ پښتنو دَ ژوند ژواک، رسمونو رواجونو، تاریخ جغرافیه، ناستې پاستې او دغه رنګ دَ ژوند دَ نورو اړخونو ژوره نفسیاتي، تاریخي او تنقیدي مطالعه کول غواړي نو ټپه دې راواخلي. ټپه داسې ښکارې چې دَ پښتو ژبې سره راغلې ده. او دَ پښتون قام سره ئې دَ ژوند هر پړاؤ اوږۀ په اوږۀ تر سره کړې. دَ دوئ غمونه، دَ دوئ ښادۍ، دَ دوئ مینه، دَ دوئ غصه عن تر دې چې دَ دوئ دَ ژوند ټول خواږۀ تراخۀ دَ ټپې په لمن کښې انغښتې خوندي شوي پراتۀ دي چې دَ وختونو یو طوفان ئې هم نۀ وړلی شي او نۀ ورکولی شي.

## حوالې او حاشيې


1. سمندر، پُښتنې، يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور، ، ۱۹۵۹ء، ص ۵۷ – ۵۸.

2. Ghani Khan, The Pathans, Frontier Post Publication, 1994, P -20,

3. دَ پښتو ترجمې دَ پاره وګورئ: اباسين يوسفزدی، دَ حمزه شنواري په شاعرۍ کښې دَ قوميت تصور، دَ پي ايچ ډي تحقيقي مقاله (ناچاپ) پښتو څانګه پېښور پوهنتون، ۲۰۱۲ء، ص ۱۲۱.

4. طائر، محمد نواز، پروفېسر، په حواله دَ پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، پيغله سلمی شاهين،پېښور، پښتو اکېډيمي، ۱۹۸۸- ۸۹، ص ۱۱

5. اباسين يوسفزی، دَ پښتونخوا باني، شعېب سنز پبلشرز مينګوره سوات، ۲۰۱۲ء، ص ۹

6. طائر، محمد نواز، پروفېسر، په حواله معاشرتي او ثقافتي اثر، پيغله سلمی شاهين،پېښور، پښتو اکېډيمي، ۱۹۸۸- ۸۹، ص ۱۹۷

7. همدغه اثر، ص ۲۰۱- ۲۰۲.

8. همدغه اثر، ص ۲۰۱ – ۲۰۲.

9. سېف الرحمان سليم، دَ وړو وړو خدايانو دې بنده کړم، يونيورسټي پبلشرز، افغان مارکيټ قصه خوانۍ پېښور، ۲۰۰۸ء، ص ۲۹.